بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان
Dr.Said Afghani
د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيټه : 27 جنوری 2019 م

# سوله

سوله خير او شريعت دی دابه راشي
تواضع او شفقت دی دابه راشي
سوله اوښکي پاکول د يو او بل دي
سوله مينه محبت دی دابه راشي
تل په عفوه کي دپاک الله رضا وي
انساني عالي صفت دی دابه راشي
مينه ښه ده موسکا ښه ده وفا ښه ده
دا دپاک الله رحمت دی دابه راشي
افغانان خو ټول ديو ګلبڼ ګلان دي
دې کي فيض او برکت دی دابه راشي
مرور ورونه به ور کړي سره غيږه
پخلاينه کي عزت دی دابه راشي
وير ژړا به نوره ختمه شي « مليارِه »
خدايګو سوله عبادت دی دابه راشي!!!

***

عبدالحفيظ « مليار »

جنوری ۲۰۱۹

www.said-afghani.org - بازګشت به صفحه اصلی